# مسیر

ورځپاڼه

نوی لید، نوی مزل


www.maseerdaily.af

سه شنبه د ۱۳۹۷ د لړم لومړۍ | د ۲۰۱۸ د اکتوبر ۲۳مه | دویم کال| ۲۷۲مه گڼه


2 017550 139621

## ځېره

۴ مخ



### جنرال عبدالرازق اڅکزی

جنرال عبدالرازق په لومړي سر کې د یوې پوستې قوماندان و، وروسته په کندهار کې د سرحدي پولیسو قوماندانۍ ته ورسېد او له هغې وروسته په ۲۰۱۱ز کال کې د کندهار امنیه قوماندان وټاکل شو.

## سیاسي گوندونه او جریانونه: د ولسي جرگې تېرې ټاکنې له بې شمېره ستونزو او درغلیو سره مخ وې



۳

## د افغانستان خټکي او انگور د لومړي ځل لپاره لندن ته ورسېدل



د افغانستان خټکي او انگور د الوتکې له لارې لومړی ترکیې او له هغه ځایه بیا څلور ورځې وروسته، لندن ته رسول شوي دي. پانگه وال وايي تمه لري هره اونۍ یوه جوپه مېوه د لندن مارکېټونو ته له کابله ولېږدوي. بهرنیو هېوادونو ته د دې ډول مېوو د لېږلو له نیمایي ډېر لگښت افغان حکومت ورکوي، څکه غواړي په دې سره په بهر کې خپل تولیدات خلکو ته ور وپېژني او بازار ورته پیدا کړي. افغان حکومت د خپلو سوداگریزو مالونو د صادرولو لپاره د هند، ترکیې او اروپايي هېوادونو په گډون ډېرو نورو بهرنیو هېوادونو ته هوايي لارې پرانیستې دي. لومړی هوايي لاره د ۲۰۱۷ ز کال په جون کې پرانیستل شوه او له هغه راهیسې بهر ته ۱۸۰ الوتنې شوې چې د څه باندې ۶۰ میلیونو ډالرو توکي یې صادر کړي دي.

### پر روڼتیا د ټاکنیزو شکایتونو د څېړلو اړتیا

۲ مخ

### ټاکنې چا وگټلې؟

۲ مخ

### د پارلماني ټاکنو پایلې به څنگه وي؟

۳ مخ

## د ټرمپ ستر سلاکار د طالبانو او افغان حکومت په خبرو کې د مسکو همکاري غواړي

د ټرمپ د ملي امنیت سلاکار داسې مهال روسیې ته سفر کړی چې په دې وروستیو کې د واشنگټن او مسکو اړیکې ترینگلې شوې دي.


بولټن به په دغه سفر کې له خپل روسي سیال نیکولای پېټروشیف او د بهرنیو چارو له وزیر سرگي لاوروف سره وگوري.

دواړه لوري به په دغه لیدنه کې پر یو لړ مهمو مسایلو خبرې او بحثونه ولري. ویل کېږي چې په دغه لیدنه کې به د ټرمپ سلاکار جان بولټن له مسکوه د افغان سولې په برخه کې د همکارۍ غوښتنه وکړي. سره له دې چې امریکا تر دې دمه په دې اړه په رسمي توگه څه نه دي ویلي، خو د بحث یوه مهمه موضوع د افغانستان د سولې مسئله ده او امریکا به له مسکوه وغواړي څو طالبان د سولې خبرو ته حاضر کړي.

دوی به همدار راز د واشنگټن او مسکو پر وروستیو اړیکو او ترینگلو مناسباتو هم خبرې او بحثونه ولري. په دې وروستیو کې د امریکا ولسمشر ډونالډټرمپ پر روسیې گڼ تورونه لگولي دي. هغه ویلي چې روسیې لنډ واټن ویشتونکي توغندي هم جوړ کړي دي، څکه یې زړه ښه کړی چې له دغه هېواد سره یو مهم اټومي تړون لغوه کړي.

د چارو افغان شنونکي بیا پر دې باور دي چې د مسکو او واشنگټن تر منځ ناسم مناسبات د افغان سولې پر پروسې ناوړه اغېز کوي او په داسې حال کې چې له طالبانو سره د سولې هڅو تازه ساه اخیستې، د مسکو او واشنگټن د اړیکو ترینگلتیا دا خبرې یو ځل بیا له خنډ سره مخ کولی شي.

## جنرال رازق ناڅو نه دی وژلی



۵ مخ

## در دو روز انتخابات ٦١ غیر نظامی کشته شده است



در جریان دو روز انتخابات ٦١ غیرنظامی در سراسر افغانستان کشته و ۱۹۰ تن دیگر زخم برداشته‌اند.

گروه عدالت خواهی و حفاظت از غیر نظامیان اعلام کرد که در جریان دو روز انتخابات ٦١ غیرنظامی در سراسر افغانستان کشته و ۱۹۰ تن دیگر زخم برداشته اند.

عزیز احمد تسل مسؤل این نهاد گفته است که این افراد در روزهای انتخابات، در اثر توپ‌های «دی سی»، موشک‌های هاوان، راکت و مواد انفجاری‌ای که در برخی از مرکزهای رأی‌دهی جابه‌جا شده بود، کشته و زخمی شدند.

براساس گزارش گروه عدالت خواهی و حفاظت از غیرنظامیان، کابل با کشته شدن ۱۴غیرنظامی و زخمی شدن ۳۷ غیرنظامی دیگر بیشترین ارقام تلفات غیرنظامیان را در دو روز انتخابات پارلمانی دارد. مسؤل گروه عدالت خواهی و حفاظت از غیرنظامیان گفته است که به اثر انداخت توپ «دی‌سی» در جریان انتخابات پارلمانی در ولایت کندز هفت غیرنظامی کشته شدند و شَش تن دیگر نیز زخمی شدند.

آقای تسل گفت که در ولایت شرقی ننگرهار در سه رویداد در جریان دو روز انتخابات پارلمانی، ٦ نفر کشته و ۲۱ نفر دیگر زخمی شدند. به گفته او سه رویداد امنیتی در ولایت کنر نیز سه کشته و سه زخمی در پی داشت.

به گفته‌ی مسؤل گروه عدالت خواهی و حفاظت از افراد ملکی، ولایت‌های هرات، ننگرهار، پکتیا، پکتیکا، هلمند، بلخ، بغلان و اروزگان نیز انفجارها و ماین‌های جاسازی شده، آسیب‌های جانی در پی داشت. آقای تسل گفت که گروه طالبان عامل بیش‌تر این تلفات است.


Add a Book to Your Life

Aksos
اکسوس کتابپلورنځی
Aksos Book Store

دهبوریو پارک جنوبي دروازې ته مخامخ
0798-98-9696, 0202504652
aksosbookstore@gmail.com
www.aksosbookstore.af
Aksos Book Store
Aksos Book Store



دريځ

## پر روڼتيا د ټاکنيزو شکايتونو د څېړلو اړتيا

تر کلونو ځنډ وروسته بالاخره په هېواد کې د ولسي جرګې ټاکنې وشوې. په ټاکنو کې د ولس ګډون له شک پرته يوه حماسه وه. له جدي امنيتي ننګونو او ګواښونو سره سره ميليونونه کسان د خپلې ارادې د تمثيل لپاره راووتل. سره له دې چې د ټاکنيزو مرکزونو د هدف ګرځولو لپاره د طالبانو تر خبرداري وروسته انګېرنه دا وه چې ښايي خورا لږ خلک په دغه ډيموکراتيک بهير کې ګډون وکړي، خو د تمې خلاف خلک لږ تر لږه د هېواد په سترو ښارونو کې ډېر شمېر راووتل او يو ځل بيا يې ثابته کړه چې افغانان د خپل برخليک په ټاکلو کې ونډې اخيستو ته ژمن دي.

د ولسي جرګې دا ځل ټاکنې هم د تېرو ټاکنو په څېر د درغليو او د ټاکنو د خپلواک کمېسيون له لوري د مديريت د کمزرۍ له نيوکو سره ملې وې. له دې کبله چې په لومړي ځل په ټاکنو کې له بايومېټريک ټکنالوژۍ کار اخيستل کېده، د رايو ورکولو په بهير کې ځنډ د وړاندوينې وړ و، خو يو شمېر داسې ستونزې هم وې چې د کمېسيون د مديريت د کمزورۍ له کبله رامنځته شوې. د بېلګې په توګه، له هر ډول امنيتي ګواښ پرته د يو شمېر ټاکنيزو مراکزو ناوخته پرانيستل کېدل. يوازې په پلازمېنه کابل کې چې کومه جدي امنيتي اندېښنه نه وه، تر ۴۰ ډېر ټاکنيز مرکزونه پر خپل وخت نه شول پرانيستل. سره له دې چې کمېسيون دويمې ورځې ته د ټاکنو په غځولو سره د دې نيمګړتيا د جبيرې هڅه وکړه، خو په دې کې شک نه شته چې يو شمېر خلک زړه سوړي هم شول. که مناسب چمتووالى موجود وی، د دغه ډول ستونزو مخنيوى ممکن و.

اوس چې ټاکنې ترسره شوې او د روڼتيا په اړه يې پوښتنې او اندېښنې شته، په کار ده چې ټاکنيزو شکايتونو ته سمه رسېدنه وشي. هغه شکايتونه چې مستند دي او په تړاو يې د قناعت وړ اسناد موجود دي، بايد په روڼتيا وڅېړل شي. په دې ډول به له يوه لوري د ټاکنو له روڼتيا سره مرسته شوې وي او له بل لوري دغه کار د پايلو پر مشروعيت هم مستقيم اغېز لري. د ټاکنو پايلې هم بايد پر ټاکلي وخت اعلان شي. د ټاکنو د پايلو په اعلان کې ځنډ په دې ترينګلو حالاتو کې دولت له يوې اضافي ننګونې سره مخ کوي. له دې کبله چې د ولسمشرۍ ټاکنو ته هم ډېر وخت نه دی پاتې، پر اوسنيو ټاکنو له اړتيا ډېر وخت ضايع کول، د ولسمشرۍ ټاکنې هم اغېزمنولی شي.

# ټاکنې چا وګټلې؟

خوشال خليل



د ټاکنو د پايلو په اړه له لومړنيو معلوماتو داسې ښکاري چې مدني فعالانو، په رسنيو کې مشهورو څېرو، د ټولنيزو غورځنګونو لکه رستاخيز او روښنايي غړو، روشنفکرانو او د سياسي ګوندونو استازو کمې او بېخي کمې رايې اخيستې دي.

خو په مقابل کې يې سوداګرو، شتمنو، د سياسي رهبرانو زامنو، محلي متنفذينو او دوديزو مشرانو زياتې رايې ګټلې دي.

له ټاکنو وړاندې تمه کېده چې دا ځل به خلک د پخوا برعکس لومړۍ کټګورۍ خلکو ته رايه ورکوي، خو برعکس خلکو د هغوی پر ځای دويمې ډلې ته رايه ورکړه چې زه يې په ماډرن او دوديزو کانديدانو وېشم.

دغه خوشباوري او محاسبه چې دا ځل به خلک د پخوا برعکس ماډرن کانديدانو ته رايه ورکوي تر دې مهاله غلطه ثابته شوه.

دا محاسبه عادي خلکو نه وه کړې، د پوهنتون استادانو، ټولنپوهانو، روشنفکرانو او د رسنيو مسوولانو ټولو د همدې محاسبې په اساس يا خپله را دانګلي وو يا يې نور دغه ميدان ته د رقابت لپاره تشويق کړي وو.

اوس بايد دا پوښتنه ځواب شي چې خلکو ولې ماډرن خلکو ته رايه ورنه کړه او پر ځای يې دوديز کانديدان حمايت کړل.

دا يوه ټولنپوهنيزه پوښتنه ده چې له درې زاويو بايد تحليل او وڅېړل شي. د ټولنپوهنې له نظره، د ټولنيزې ارواپوهنې له نظره او د اقتصاد او عقلانيت له نظره.

دا ډول څېړنه کې بايد څېړونکی د ټولنې منځ ته لاړ شي او له خلکو څخه د مرکو او پوښتنپاڼو په اساس معلومات راټول او بيا تحليل کړي.

که دوی تر ټاکنو مخکې دغه شان ميداني، عيني او واقعي تحليل او ارزونه درلودای فکر نه کوم چې په دومره شور او زور به يې په ټاکنو کې برخه اخيستې وای.

زما له نظره خلکو ته له متعالي افکارو، هيلو، لوړو اوږدمهالو ګټو او مزيتونو فوري اقتصادي او ټولنيز امنيت مهم دی، زموږ ماډرن کانديدانو خلکو ته دغه ډول فوري اقتصادي او ټولنيز امنيت نشو ورکولی، خو دوديز کانديدان بيا دا کار کولای شي، د ټاکنو مخکې راغلل يو کلي ته يې وويل ځا درته باسم او تاسې به اوبه ولرى، خو رايه به ماته راکوى، يا يې نغد د هغه د دوه درې ورځو جيب خرڅ ورکړ. بله خوا د پخواني رهبر يا قومي مشر زوی ورته راغی خلکو ته يې وويل، په بده ورځ کې مو زه په درد خورم او لکه زما پلار چې ستاسو تر څنګ ولاړ و، دغسې به زه هم درسره يم او ستاسې له قوم، مذهب او ارزښتونو به دفاع کوم.

د دې په مقابل کې کارپوه، روشنفکر، مدني فعال او ماډرن کانديد دغسې ژمنه خلکو ته نه شي ورکولی، هغه د عدالت، ازادۍ، ډيموکراسۍ، شفافيت پر څېر ذهني انتزاعي شعارونو باندې خلک قانع نه شوی کړی، ځکه خو د دوی محاسبه غلطه وه او هيله ده چې دغه ماډرن کانديدان او دې ته ورته نور ماډرن جريانونه له دغو ټاکنو سبق واخلي او لږ له خپلو لوکسو دفترونو راووځي او د ټولنې نبض معلوم کړي. که د ټولنې نبض معلوم نه شي زموږ روښانفکره نخبه ګان، تکنوکراتان او نورو ماډرن فکر لرونکو ټولې طرحې، سياستونه او محاسبې به همداسې غلطې راووځي.

زه د خلکو د افکارو، د ټولنې د نبض په باره کې قضاوت نه شم کولی چې ولې يې داسې وکړل، خو دا موضوع بايد ښه سمه وڅېړل شي او ډېر څه به راته روښانه شي.

## ننګرهاري معترضين: امنيتي ځواکونو په سره رود کې اوو ملکي وګړو ته مرګ ژوبله اړولې



د ننګرهار په سره رود ولسوالۍ کې دولتي ځواکونو عمليات کړي چې د ځايي خلکو په وينا، پنځه ملکي وګړي پې وژلي او دوه ماشومان يې ټپيان کړي دي.

بلخوا دولتي چارواکي وايي چې عمليات د طالب وسله والو د استخباراتو د مهمو غړو د په نښه کولو په موخه شوي چې ګڼ شمېر وسله والو ته پکې مرګ ژوبله اوښتې، خو د ځينې ملکيانو جسدونه هم د ولس له لوري تر ولسوالۍ راوړل شوي دي.

د سيمې اوسېدونکو د تلې په ۳۰مه د اعتراض په توګه د وژل شويو پنځو ملکي وګړو جسدونه د سره رود ولسوالۍ تر مقامه راوړي وو او غوښتل يې چې د ولايت تر مخې يې ورسوي، خو هلته امنيتي ځواکونو د تګ اجازه ورنه کړه.

د اعتراض کوونکو له ډلې محمد نظير ناصري پژواک ته ويلي، دولتي ځواکونه وړمه ورځ ماښام نږدې شپږ بجې د سره رود ولسوالۍ بالاباغ سيمې ته ورغلي، هلته يې د طالب قوماندانانو نومونه اخيستي؛ خو ملکي وګړي يې په نښه کړي دي.

دی وايي، پنځه ملکيان وژل شوي او دوه ماشومان ټپيان شوي چې د وژل شويو جسدونه يې ټول له ځان سره راوړي دي.

د سيمې قومي مشر ملک نجيب الله ويلي چې د وژل شويو کسانو له ډلې دوه يې سپين ږيري کروندګر، دوه موټر چلوونکي او يو هم دوکاندار دی چې له وسله والو سره يې هېڅ اړيکې نه درلودې.

هغه غوښتنه کړې چې حکومت دې د دوی د وژل شويو کسانو د وژل کېدو په تړاو څېړنه وکړي او عاملينو ته دې سزا ورکړي.

د عتيق الله په نوم يو سپين ږيری چې وراره يې په دې پېښه کې وژل شوی وايي، وراره يې موټر چلوونکی و، پر ماشوم ناروغه مېرمن يې کور ته رسوله چې امنيتي ځواکونو وژلی دی.

اسدالله په جلال اباد ښار کې ښوونکی دی، د تره دوه زامن يې په ملي اردو کې دي؛ خو وايي، وړمه شپه يې کروندګر تره وژل شوی دی.

بلخوا د ننګرهار د والي وياند عطاءالله خوږياڼي ويلي چې عمليات د ملي امنيت ځانګړو ځواکونو کړي او د طالب وسله والو د استخباراتو مهم غړي يې په نښه کړي دي.

دی وايي چې په عملياتو کې ګڼ شمېر وسله والو ته مرګ ژوبله اوښتې او دغه راز ملکي کسانو ته هم مرګ ژوبله اوښتې چې د پنځو هغو جسدونه يې تر ولسوالۍ انتقال شوي دي.

د هغه په وينا، د پېښې د قربانيانو د کورنيو له غړو او د سيمې له قومي مشرانو سره والي او نورو مسوولينو د ليدنې پر مهال هغوی ته ډاډ ورکړی چې د پېښې څېړنه به کوي او عاملين به يې مجازات کوي.

تر دې وړاندې هم د دغه ولايت بېلابېلو ولسواليو کې د ملي امنيت د ځانګړو ځواکونو په عملياتو کې ملکي وګړو ته مرګ ژوبله اوښتې ده.

## ارګ: له طالبانو سره د سولې خبرو د پيل لپاره د حکومت او امريکايانو هڅې بې ساري دي



ولسمشرۍ ماڼۍ وايي، د سولې د بين الافغاني مذاکراتو د پيل لپاره د افغان حکومت او امريکا هڅې بې ساري دي.

د ولسمشرۍ ماڼۍ وياند محمد هارون چخانسوري وايي، که څه هم د سولې د خبرو په اړه تازه پرمختګ نه شته، خو حکومت هيله من دی چې ډېر ژر له طالبانو سره مستقيم مذاکرات پيل شي.

چخانسوري وايي: «کوم جديت چې د سولې په پروسه کې موجود دی، حکومت او خلک يې په کلکه غواړي، د امريکا په ګډون د افغانستان ټول متحدين په جدي توګه کار کوي، دا کار بې سابقې دی، همکاران له افغان حکومت سره په همغږۍ کې د بين الافغاني مذاکراتو د پيل لپاره کار کوي، هيله من يو چې مثبته نتيجه ورکړي.»

د ده په خبره، حکومت چمتو دی چې له طالبانو سره له پاکستانه پرته په هر ځای او هره کچه چې وي، مستقيمې خبرې وکړي.

طالبانو تازه د افغان حکومت د دغه دريځ په اړه څه نه دي ويلي، خو پخوا تر دې دغه تحريک ټينګار کړی چې له افغان حکومت سره به مذاکرات ونه کړي.

دا په داسې حال کې ده چې په دې وروستيو کې د امريکا د بهرنيو چارو د وزارت ځانګړي استازي زلمي خليلزاد د افغانستان د سولې په هدف، کابل، اسلام اباد، رياض، قطر او دبۍ ته سفرونه کړي دي.

ده له افغان حکومت او طالبانو وغوښتل چې د سولې د مذاکراتو لپاره پلاوی وټاکي.

خليلزاد په دغو سفرونو کې د طالبانو له استازو سره ليدلي چې طالبانو او د افغانستان د سولې عالي شورا تأييد کړي دي.

د سيمې هېوادونو ته د خليلزاد له سفر وروسته، له طالبانو سره مستقيمو مذاکراتو ته هيلې زياتې شوې دي.

د ولسمشر لومړي مرستيال عبدالرشيد دوستم د يکشنبې په ورځ ويلي وو چې حکومت بايد اجازه ورکړي چې له طالبانو سره مستقيمې خبرې وکړي.

ده ويلي، د طالبانو په ژبه ښه پوهېږي او دواړه يو بل هم ښه پېژني.

دوستم دا هم ويلي چې د ولسمشرۍ ماڼۍ د مرستيالۍ څوکۍ ورته ارزښت نه لري، بلکې مهمه ورته په هېواد کې د جنګ پای ته رسېدل دي.

په ورته وخت کې د افغانستان د سولې عالي شورا مرستيال حاجي عزيزالله دين محمد وايي، امريکايي چارواکي دا هڅه کوي چې افغان حکومت له طالبانو سره په مستقمو مذاکراتو کې شامل شي.

دی وايي: «خليلزاد هڅې کوي چې په دغو مذاکراتو کې افغانستان يا افغان دولت شامل شي، د افغانستان له لوري به يو مذاکراتي ټيم جوړ او د ټولو په ګډون رسمي مذاکرات پيل شي.»

ځينې افغان پوهان له دې ډلې ودير ساپی په دې باور دی چې تر هغې چې د پاکستان غوښتنې ونه منل شي، له طالبانو سره مستقيمې خبرې نه شي پيلېدای.



# د پارلماني ټاکنو پایلې به څنګه وي؟

لیکنه: اغاملوک سهار

که څه هم د تېرو ورځو په پارلماني ټاکنو کې مشکلات ډېر وو، خو سربېره پر دې بیا هم د د رایې اچونې له اړخه د پخوا په نسبت شفاف وو.
۲۰۰۹ او ۲۰۱۴ ز کلونو د جمهوري ریاست ټاکنې او د ۲۰۱۰ ز کال پارلماني ټاکنې ډېرې له درغلیو ډکې وې. حتی ما هغه وخت خپله ولیدل چې ډېری رییس محلانو او ډیفسیانو او نوماندانو به ځان سره تر څو زره د ټاکنیزو کارتونو کاپیانې درلودې او دې ته ورته نورې ډېرې د درغلیو لارې چارې موجودې وې چې په ناندریو او جنجالونو یې موږ ټول خبر یو. ولې د تېرې شنبې او یکشنبې ورځو په ټاکنو کې د دې ډول پېښو احتمال ډېر کم و.
په اوسنۍ اصطلاح د بایومېټریک سیستم کار لږ پېچلی کړ او د کمېسیون کمزوری مدیریت، د مرکزي احصائیې د اداري مداخله، د ناظرینو ډېروالی او ډېر د نوم پلټولو ناسم الګوریتم نوره هم رایه اچونه خلکو ته سخته کړه، خو د بایومېټریک او محلي رایې اچونې په صورت کې نوم پلټلو ته هېڅ اړتیا نه وه. د دې هرڅه په درلودو سره هیله ده خلک په ټکنالوژۍ اعتماد له لاسه ور نه کړي.
دویمه پېچلتیا له دې وروسته پیل کېږي. دا چې له ټولو ولایتونو، ولسوالیو او کلیو څخه به دا ټول ډیوایسونه (هغه هم که چېرې د ټاکنو تر وروستي ساعته چارج ولري، په سم ډول ډېټا انټرې شي او کمېسیون ته ببرته تسلیم شي) او د رایې صندقونه او لېستونه راټولېږي او ببرته په کابل کې دانه په دانه ټوله ډېټا له ډیوایسونو څخه سرور ته کاپي کېږي، رایې به چک کېږي او سخته لا دا ده چې رایې ورکې په لېست کې د نوم او سیستم کې ثبت شوو عکسونو ترمنځ اسانه لار او پلټنې الګوریتم نشته چې څنګه یې سره مقایسه کړي او تکرارې رایې باطله کړي. د بېلګې په ډول، دغه سیستم زېربنا نه درلوده چې د خلکو ډېټا مخکې له مخکې په سیستم کې ثبت کړي او نه د دغه سیستم ټول اړخونه مطالعه شوي وو او نه هم زموږ د هېواد له شرایطو او نورو اړخونو سره سم ډیزاین شوي وو.
بله لویه نیمګړتیا دا وه چې دا (Single Scanner) موبایل ډیوایسونه وو، یعنې یوه ګوته په یو وخت کې سکن او ثبت کوي، نه ټولې ګوتې؛ نو که یو کس شل تذکرې ولري، د ګوتې په بدلولو سره شل رایې اچولی شي.
په هغو مرکزونو کې چې ډیوایسونه نه دي کارېدلي او یا ورک او یا د ورځې تر پایه یې کار نه دی کړی، د رایو سرنوشت به څنګه مالومېږي؟ دا بله لویه ننګونه ده.
د رایو ډېروالی مهم نه دی، بلکې شفاف والی یې مهم دی. که ډیوایسونه سم کار وکړي او سرور یې پروسس کړي او څه ډول چې د ټاکنو کمېسیون ویلي، هغه ډول ټول مراحل ترسره شي، نو زما په نظر له ۵۰-۷۰ سلنه شفافیت تضمین کولای شي او په پاتې برخه کې به کاغذي سیستم او نظارت مرسته کوي.
د ټاکنو کمېسیون پلان لري چې د راتلونکې میلادي میاشتې په لسمه پایلې اعلان کړي. فکر نه کوم چې له دې خنډونو او پېچلي پروسس سره دې دومره زر دا کار وشي، خو که پایلې ژر یا وروسته اعلان هم شي، د نوماندانو ناندرۍ او شکایتونه به ډېر وي، ځکه د افغانستان په شان یو هېواد کې چې تر ډېره پر نورو تکیه دی او زېربنا او مسلکي ټیمونه نه لري، په دې برخه کې پخوا کوم شفافیت نه و او په کار کې د نورو مداخله یې ډول ډول شکونه او اندېښنې رامنځته کوي.
په ټوله کې له ډېرو ستونزو سره سره رایه اچونه تر ډېره شفافه وه، خو د پایلو سم او په وخت معلومېدلو لپاره لا ستونزې او ننګونې شته چې وروسته به معلومېږي.

## سیاسي ګوندونه او جریانونه: د ولسي جرګې تېرې ټاکنې له بې شمېره ستونزو او درغلیو سره مخ وې



یو شمېر سیاسي ګوندونه او جریانونه سره له دې چې په ټاکنو کې د خلکو له پراخ ګډونه هرکلی کوي، وایي چې ټاکنې له بې شمېره ستونزو او درغلیو سره مخ وې.
د افغانستان سیاسي ګوندونو او جریانونو د تلې په ۲۸مه د ګڼ شمېر مرکزونو نه پرانیستل او یا په ځنډ سره پرانیستل یو پلان شوی عمل وباله.
دغو جریانونو پرون د یوه خبري کنفرانس پر مهال د یوه پرېکړه لیک په خپرولو سره وویل چې تکراري او له بایومېټریک پرته کارول شوې رایې باید باطلې اعلان شي.
د افغان ملت ګوند عمومي منشي ډاکتر نادر حساس د پرېکړه لیک یوه برخه ولوسته چې پکې راغلي وو: «په ډېرې خواشینۍ سره باید ووایو چې د ټاکنو لړۍ په ټول هېواد کې له ستونزو او بې شمېره درغلیو سره مخ وه چې د انتخاباتو بهیر یې د روښتیا، مشروعیت او اعتبار له پلوه تر سختو پوښتنو لاندې راوستی دی، زموږ غوښتنه دا ده چې تکراري رایې باید باطلې اعلان شي او په هغو مرکزونو کې چې بایومېټریک سیستم نه دی کارول شوی، رایې یې د منلو وړ نه دي.»
دوی همدا شان وویل، د رایې ورکولو په ډېرو مرکزونو کې څارونکو ته د څارنې اجازه نه ده ورکړل شوې او په یادو مرکزونو کې حاکمیت له زورواکو سره پاتې شوی.
دغو ګوندونو همدارنګه وویل چې ډېر ژر به د هېواد ملي ګټو ته په پام او له ولس سره له سلا مشورو وروسته د ۱۳۹۷ لمریز کال د ولسي جرګې د ټاکنو په تړاو خپل ګډ دریځ څرګند کړي.
په ورته مهال پر ټاکنو د څار بنسټونه هم په دې پروسه کې د ځینو نیمګړتیاوو پر شتون نیوکه کوي او وایي چې ګڼ شمېر خلک د کمېسیون د کمزوري مدیریت له کبله په ټاکنو کې له ګډون کولو پاتې شول.
د ټاکنو خپلواک کمېسیون چارواکي هم سره له دې چې په ټاکنو کې ځینې نیمګړتیاوې مني، خو وایي چې د خلکو له رایو به ساتنه وکړي.
د ټاکنو د خپلواک کمېسیون مشر ګلاجان عبدالبدیع صیاد پرون مازدیګر یوې خبري ناستې ته وویل چې په ۳۲ ولایتونو کې شاوخوا څلورو میلیونو کسانو په ټاکنو کې ګډون کړی و.
صیاد وویل، د ټاکنو په ورځو کې د پېښو شویو ستونزو څېړنه کوي او که د کمېسیون کارکوونکي په سرغړونو کې ښکېل وي، سزا به ورکړل شي.
د کمېسیون رییس ډاډ ورکړ چې د هغو مرکزونو رایې به په دقیقه توګه وڅېړي چې زورواکو پکې د بایومېټریک د نه کارولو هڅې کړې دي.
په ورته مهال د ټاکنیزو شکایتونو کمېسیون چارواکي هم وایي چې په ټاکنو کې د درغلیو او سرغړونو په تړاو ګڼ شمېر شکایتونه ور رسېدلي چې د دوی له لوري به په بې پرې توګه وڅېړل شي .
د ټاکنیزو شکایتونو کمېسیون غړی او ویاند علي رضا روحاني د ټاکنو کمېسیون پړ بولي چې د کمزوري مدیریت له کبله یې ځینې خلک له رایې ورکولو پاتې شول او په پروسه کې ستونزې پېښې شوې.
د ټاکنیزو شکایتونو کمېسیون وایي، تر نن ماښامه په خپلو ولایتي دفترونو کې شکایتونه ثبتوي او وروسته به یې څېړنې پیل کړي. دوی خبرداری ورکوي چې په درغلیو کې ښکېل کسان به مجازات کړي .

## روسیه: د منځني واټن ویشتونکو توغندیو له تړونه د امریکا وتل به خطرناکې پایلې ولري



روسیه وایي، د منځني واټن ویشتونکو توغندیو له تړونه د امریکا وتل به خطرناکې پایلې ولري او د غچ اخیستونکو اعمالو سبب به شي.
روسیه وایي، واشنګټن پلان لري چې د سړې جګړې د دورې له دغه مهم تړونه چې د وسلو د کنټرول لپاره شوی دی، ووځي.
د متحده ایالتونو ولسمشر ډونالډټرمپ تر دې وړاندې ویلي وو چې هېواد یې ځکه د منځني واټن ویشتونکو اټومي توغندیو له تړونه وځي چې مسکو له کلونو راهیسې دغه تړون تر پښو لاندې کړی، خو روسیې د امریکا دا تورونه تل رد کړي او ویلي یې دي چې په اصل کې په اروپا کې د امریکا متحده ایالتونو د میزایلو دفاعي سیستم ځینې برخې له دغه تړون سره په ټکر کې دي.
ټرمپ د شنبې په ورځ خبریالانو ته وویل: «موږ به دا ډول وسلې «منځني واټن ویشتونکي توغندي» پراخوو، مګر که روسیه او چین راشي او په ګډه راته ووایي چې باید هوښیار و اوسو او هېڅ یو دا وسله پراخه نه کړو، زه به هغه وخت خوښ شم، خو تر هغو چې نور خلک دا تړون تر پښو لاندې کوي، موږ به یې هم غم نه کوو، فکر کوم په دې خبره پوهېږی.»
د ټرمپ له دغه اعلان یوه ورځ وروسته روسي رسنیو د دغه هېواد د بهرنیو چارو وزارت د مرستیال سرګي ریابکوف په حواله ویلي چې له دغه تړونه د امریکا وتل به خطرناکې پایلې ولري.
بل خوا د پخواني شوروي اتحاد مشر میخایل ګورباچوف چې په ۱۹۸۷ ز کال کې یې له امریکا سره دغه تړون لاسلیک کړی، د امریکا د ولسمشر خبرو ته په اشارې سره ویلي چې دغه کار د واشنګټن «ناپوهي» په ډاګه کوي.
د روسیې د ولسمشرۍ ماڼۍ یوه ویاند ویلي، د دغه هېواد ولسمشر ولادیمیر پوتین به روانه اونۍ د امریکا د ملي امنیت له سلاکار جان بولټن سره په مسکو کې وګوري او په دې اړه به خپله اندېښنه ورسره شریکه کړي.
امریکایي چارواکي وایي، روسیې له کلونو راهیسې د دغو توغندیو ازموینې کړې او واشنګټن تر دې وړاندې په ۲۰۱۴ ز کال کې هم په رسمي توګه دا تور مطرح کړی دی.
بل خوا د جرمني د بهرنیو چارو وزیر هیکو ماس هم د اکتوبر په ۲۱مه په یوه بیان کې وویل، واشنګټن باید له دغه نړیوال تړونه د وتلو په پایلو غور وکړي. ماس دغه تړون د اروپا «د امنیتي جوړښت یوه مهمه ستنه» بللې ده.
نوموړي دغه راز ویلي، موږ تل له روسیې غوښتي چې د سرغړونې په اړه تورونه ځواب کړي او دا دي دا وار له امریکا هم غواړو چې د کار په پایلو غور وکړي.

## د کتــاب خبــرې

# د رهبرۍ اړينې ځانګړنې

## ۲۱ هغه ځانګړتياوې چې يو غوره رهبر يې حتماً ولري

◎ ليکوال: جان مکسوېل

◎ ژباړن: ميـراحمد يـاد

### اتمه ځانګړنه
### تمرکز:



**۳) د ضعف پر ساحو ۵ سلنه تمرکز وکړئ**

هېڅوک د خپل ضعف په ساحو سترګې نشي پټولی، البته حللاره يې دا ده چې دا ساحه د امکان تر حده راتنګه شي او رهبران دا کار کولای شي. د دې کار يوه لاره دا ده چې واړه يا جزئي کارونه نورو ته وسپارل شي. مثلاً زه په خپل دفتر کې زما د کنفرانسونو لوجستيکي چارې يوې ډلې ته سپارم. دا کارونه چې هغوی وکړي، زه بيا هغو کارونو ته وزګارېږم چې زه يې تر ټولو ښه کولای شم، مثلاً په کنفرانس کې اصلي وينا.

**پر دې موضوع فکر وکړئ**

د توجه او تمرکز په برخه کې ځانته څو نومرې ورکوئ؟ آيا تراوسه مو فرعي موضوعاتو ته اصلي پام کړی دی؟ آيا تراوسه مو د خپل ضعف په له منځه وړلو او پر قوتونو بدلولو کار کړی دی؟ آيا کمزوري خلک ستاسې ټول وخت درنه نيسي؟ که داسې وي، نو تاسې تمرکز نه کوئ.

که غواړئ چې بېرته له تمرکزه برخمن شئ، نو لاندې کارونه وکړئ:

پر ځان کار وکړئ. تاسې د ځان تر ټولو ستره شتمني او تر ټولو ستر زيان ياست.

پر خپلو لومړيتوبونو کار وکړئ. دې ته بايد مبارزه وکړئ.

په خپلو قوتونو کار وکړئ. خپلو بالقوه قوتونو ته رسېدلی شئ.

په خپل چاپېر کې خلکو سره کار وکړئ. هېڅوک په يوازې سر نه دي بريالي شوي.

**د رسېدو لار**

**د تمرکز د ودې لپاره لاندې کارونه وکړئ:**

• خپلو وړتياوو ته مخه کړئ. د داسې درې څلورو کارونو يو ليست جوړ کړئ، چې تاسې يې سم ترسره کولای شئ. په دې کارونو به خپل څو سلنه وخت لګوئ؟ د خپل قوت دغې ساحې ته څو سلنه سرچينې يا امکانات ځانګړې کوئ؟ د بدلون لپاره پلان جوړول تاسو ته دا امکان درکوي چې خپل ۷۰ سلنه وخت خپل د قوت ساحې ته ورکړئ. که داسې نشئ کولای، نو په خپل کار او دندې بايد بيا له سره کتنه وکړئ.

• خپلې کمزورۍ مو وويشئ. درې څلور داسې کارونه ليست کړئ چې تاسې يې سم نشئ ترسره کولای. وګورئ چې کوم کار نورو ته سپارلی شئ؟ آيا نورو کارکوونکو ته اړتيا ده؟ که له خپلو شته همکارانو سره دا کار په يو ځای کولای شئ؟ پلان ورته جوړ کړئ.

• امنيتي پوله جوړه کړئ. لومړيتوبونه چې مو وټاکل اوس په تمرکز فکر وکړئ. د خپل قوت اصلي ساحې ته د رسېدو لپاره څه شي ته اړتيا لرئ؟ کومو نويو وسايلو ته اړتيا ده او څه به له لاسه ورکوئ؟ کوم وخت او پيسې چې تاسې د خپل قوت دغې نوې ساحې ته رسوي، دا ستاسې تر ټولو غوره پانګونه ده.

**له تجربې زده کړه**

د ژويو تجربه کار روزونکي چې کله د زمري پنجرې ته ننوځي، نو له ځان سره يو مېز ننباسي، په مېز څه کوي؟ دا ځکه چې مېز (له آراموونکې وسلې پرته)، د زمري د رام کولو تر ټولو ښه وسيله ده. روزونکی چې زمري ته مخامخ شي، د مېز څلور واړه پښې د زمري مخ ته ونيسي، زمری هڅه کوي چې پر څلورو واړو پښو په يوه ځای تمرکز وکړي او په دې کار سره زمری خپله فلج کېږي... يعنې که چېرې ستاسې تمرکز هم څو ځايه وويشل شي، نو تاسې فلجوي.

### نهمه ځانګړنه
### سخاوت:
### ستاسې ډېوه چې بله ډېوه روښانوي

څه شی له لاسه نه ورکوي.
هېڅا ته په دې خاطر چې څه يې ترلاسه کړي دي بدله نه ورکوي، بلکې بدله د هغو کسانو ده چې نورو ته يې څه ورکړي دي.
(کالوين کولېج)
«د امريکا ولسمشر»

سخاوت د ژوند تر ټولو لوړه کچه ده.
(جان مکسوېل)

**دا له زړه راوځي**

د سخي خلکو په اړه چې څوک دريادېږي؟ آيا د (اندرو کارنيګی)، (جي پي مورګان)، او (اندرو ميلن) نومونه درياديږي، که د نويو خلکو په برخه کې درته د (جوين کراک) يا (بيل ګيټس) نومونه درياديږي؟ دغو خلکو نورو ته ميليونونه ډالر ورکړي دي، خو زه غواړم تاسې ته يو بل نوم واخلم، کېدای شي تاسې به دا نوم تراوسه نه وي اورېدلی، دا کس د يو ډول ربښتيني بخشش ښکارندوی دی، هغه بخشش چې له زړه راوځي. **دوام لري...**

# جنرال عبدالرازق اڅکزی



حکمت ارين

جنرال عبدالرازق په ۱۳۵۸ لمريز کال کې د کندهار ولايت په سپين بولدک ولسوالۍ کې زېږېدلی دی. نوموړی په قوم اڅکزی و او پلار يې د کمونيستي حکومتونو پر مهال د مجاهدينو ترڅنګ د وخت له حکومت سره جنګېده. په ۱۹۹۴ ز کال کې طالبانو د جنرال رازق پلار او تره ووژل او تر څه مودې پورې خپله رازق هم له هغوی سره بندي و چې وروسته له بند څخه په تېښته بريالی شو.

رازق وروسته د طالبانو له مخالفانو سره يو ځای شو او تر څه مودې پورې يې له هغوی سره جګړه وکړه. د طالبانو حکومت له ړنګېدو وروسته رازق د حامد کرزي له حکومت سره يو ځای شو او په سپين بولدک کې د سرحدي پوليسو مشر وټاکل شو. له نوموړي څخه درې مېرمنې، پنځه لوڼې او اووه زامن پاتې دي.

جنرال عبدالرازق په لومړي سره کې د يوې پوستې قوماندان و، وروسته په کندهار کې د سرحدي پوليسو قوماندانۍ ته ورسېد او له هغې وروسته په ۲۰۱۱ ز کال کې د کندهار امنيه قوماندان وټاکل شو. د کندهار تر څنګ، جنرال عبدالرازق په ارزګان، هلمند او زابل ولايتونو کې هم د پوځي عملياتو مشري کوله.

جنرال رازق په هېواد کې له پېژندل شويو څېرو څخه و او د پاکستان پر وړاندې يې سخت دريځ درلود.

نوموړی د خپل جګړه ييز مهارت، شخصي او قومي اړيکو پر مټ د سيمې له مشهورو شخصيتونو څخه و او د وژل کېدو تر مهاله د کندهار د امنيه قوماندان پر څوکۍ پاتې شو. جنرال رازق په ۲۰۰۸ ز کال کې لومړی ځل د بهرنيو ځواکونو له ملاتړ پرته د کندهار په محله جات کې د افغان ځواکونو خپلواک عمليات ترسره کړل. رازق په ۲۰۱۱ ز کال کې د کندهار د پخواني امنيه قوماندان خان محمد مجاهد له وژل کېدو وروسته د هغه د ځای ناستي په توګه وګومارل شو. د امنيه قوماندان په توګه د کندهار امنيت په ټينګښت کې د نوموړي رول خورا مهم بلل کېده. جنرال رازق د طالبانو سخت مخالف و او د دې تر څنګ د پاکستان پر ضد د توندو نيوکو او څرګندونو له کبله هم مشهور و.

جنرال عبدالرازق مخکې له دې چې د کندهار د امنيه قوماندان دنده ور وسپارل شي، د هېواد په سرحدي ځواکونو کې د وطن د يوه زړور قوماندان په توګه د وسله والو په مخنيوي کې ډېر مهم رول درلود. د هغه د زړورتيا او پوهې په نظر کې نيولو سره په ۱۳۹۰ لمريز کال کې د کندهار د پخواني امنيه قوماندان خان محمد مجاهد تر وژل کېدو وروسته، د سرحدي پوليسو د قوماندانۍ تر څنګ، د کندهار د امنيه قوماندانۍ مسووليت هم ور وسپارل شو. د نوموړي تر ټاکل کېدو وروسته د کندهار ولايت امنيتي وضعيت چې په ډېر بد حالت کې و، تر پخوا ښه او د ډاډ وړ شو.

نوموړي څو څله د هېواد د مختلفو اشخاصو په اړه توندې نيوکې او څرګندونې هم کړې دي. نوموړي په ۲۰۱٦ ز کال کې په کابل کې د برهان الدين رباني د مړينې په تلين کې د خلکو تر ويناوو وروسته په کندهار کې له رسنيو سره په خبرو کې په ډېره تونده لهجه وويل، هر څوک دې خلکو ته بې ځايه د ملي قهرمان لقبونه نه ورکوي او که چېرې داسې وي، نو بيا تر ملا عمر او ملا داد الله ستر مجاهدين نشته او بايد د هغه لپاره هم ورځې ځانګړې شي.

د رازق په تړاو په لومړيو وختونو کې د هېواد په شمال کې چندان ښه نظر موجود نه و، خو له يو څه مودې وروسته بيا جنرال رازق يو څه خپل دريځ بدل کړ چې د وخت په تېرېدو يې په ۲۰۱۸ ز کال کې د حکومت او عطا محمد نور تر منځ په اړ او دوړ کې د عطا محمد نور پلوي وکړه.

نوموړي د عطامحمد نور تر څرګندونو وروسته چې ويل يې حکومت يې له بلخ ولايت نه د لرې کولو وړتيا نه لري او له ياد ولايت نه د نوموړي د تګ فيصله به جميعت ګوند کوي وويل: «حکومت د يوې هوکړې له مخې رامنځته شوی او د دې وړتيا نه لري چې څوک له دندې لرې او يا يې وګماري.»

دا د نوموړي او حکومت تر منځ لومړی او وروستی جنجال نه و. دغه راز په نوموړي د بشري حقونو د کمېسيون له خوا هم تورونه وو چې شخصي زندانونه لري. رازق په تښتونو، ځورونې او بشر ضد جرمونو هم تورن و، خو هغه تل دغه تورونه ردول.

څه موده وړاندې د جنرال رازق په مشرۍ ځواکونو پر ډېورنډ کرښه له پاکستاني ځواکونو سره هم سخته جګړه وکړه. جنرال رازق د پاکستان ضد سخت دريځ درلود. نوموړي ډېری وخت له رسنيو سره په مرکو کې پاکستان د افغانانو سرسخت دښمن بللی او تل يې دا خبره کړې، تر هغې چې د پاکستان لاسونه تر افغانانو پورې رسېږي، افغانان ښه ورځ نه شي ليدلی.

جنرال عبدالرازق د افغانستان په کچه يو زړور قوماندان و چې په راتګ سره يې په ټولې جنوب لوېديځې حوزې کې امنيتي حالت ښه شو. د رازق په شهادت نه يوازې د کندهار ولايت اوسېدونکي خواشيني وو او د ده نه موجوديت يوه لويه ضايعه بلله، بلکې په ټول هېواد او د هېواد څخه د باندې ټولو افغانانو د ده په شهادت خواشيني څرګنده کړې او دی يې د ملت يو زړور قوماندان او نه جبرانېدونکې ضايعه بللې ده. د هېواد د ولسمشر په ګډون د افغانستان د ختيځ څخه تر لوېديځ او له شمال څخه تر جنوبه ټولو قومي مشرانو، علماوو، پوځي قوماندانانو، جهادي او ملي شخصيتونو او عامو خلکو د خواشنۍ مراتب خپاره کړل او د ده شهادت يې د هېواد لپاره نه جبرانېدوکې ضايعه وبلله.

د شهيد ستر پاسوال عبدالرازق په اړه مو د کندهار بېلابېل شخصيتونه وغږول او ټولو په يوه اواز ويل چې شهيد يو زړور، تجربه کاره، په کار پوه او باتدبيره نظامي مسوول و چې هېڅکله يې د دښمن پر وړاندې ماته نه منله او تل يې د خپل سره په بيه د خپلې خاورې او خلکو ساتنه کوله. د دوی له قوله، شهيد رازق په ډېر لوړ مورال د مخالفينو مقابله کول او په هر ميدان کې يې وسله والو مخالفينو ته سخته ماتې ورکوله.

خلکو دا هم ويل چې ستر پاسوال شهيد عبدالرازق په کندهار کې د ټولو خلکو ستونزو ته رسيده ګي کوله او د امنيتي چارو تر څنګ د کندهار د خلکو د اساسي ستونزو د حل په لټه کې و او تل يې خلکو ته په ورين تندي ځواب ورکاوه او د ستونزو په حل کې يې هر اړخيزه همکاري کوله.

جنرال عبدالرازق تل د دښمن د شومو پلانونه په مخنيوي کې بريالی او تل د دوی د سترګو اغزی و، نو له همدې امله دښمن هم تل د هغه دله منځه وړلو په هڅه کې و. نوموړي په دې اړه له رسنيو سره په خبرو کې ويلي: «تر پنځه دېر شو ډېرې حملې را باندې شوې، داسې چې موټر مې په راکټ لګېدلی، داسې چې موټر مې پر ماين ختلی، په کمين کې راګير شوی يم او انتحاري حملې را باندې شوې دي.» له دې ټولو سره سره به نوموړی تل دخدای ج په فضل او د خپلو خلکو د دعاوو په برکت وژغورل شو. بالاخره لوی پاسوال عبدالرازق د هېواد او خلکو د دښمنانو په يوه شومه دسيسه کې د ۱۳۹۷لمريز کال د تلې د مياشتې په ۲٦ مه نېټه شهيد او د اجل داعيې ته يې لبيک ووايه او جنازه يې د کندهار ښار او ولسواليو د زرګونو اوسېدونکو، د هېواد له بېلابېلو ولايتونو څخه ګڼ شمېر مشهورو څېرو، د ولسي جرګې غړو، د هېواد سياسي او جهادي شخصيتونو، علماوو، سپين ږيرو، ځوانانو، قومي مشرانو او د شهيد ګڼ شمېر دوستانو په ګډون د کندهار ښار د خرقې شريفې په انګړ کې په يو لړ خاصو مراسمو کې خاورو ته وسپارل شوه.

همیانی

# ټکنالوژۍ په کمو کلونو کې زموږ ژوند څومره بدل کړی!؟

لیکنه: فیض الله فیض www.yaraan.com

ټکنالوژۍ د انسانانو په ژوند کې ډېر سهولتونه رامنځته کړي او په مرسته یې نړۍ ورځ تر بلې ګام پر ګام د پرمختګ پر لور روانه ده او دا لړۍ همداسې دوام لري. د ټکنالوژۍ پوهان او عالمان په خپل منځ کې په رقابت دي چې یو له بله مخکې شي او د انسانانو ژوند ته نوې اسانتیاوې او سهولتونه راوړي؛ نو همدا د سالم رقابت ثمره ده چې د انسانانو ژوند یې جالب او په زړه پورې کړی دی.

په پخوا زمانو کې به انسانانو د سورلۍ، تجارت او کروندو لپاره له څارویو ( اوښانو، خرو، فیلانو، اسونو، غوایانو او...) څخه ګټه اخیستله، خو نن ورځ انسانانو د ژوند د اسانتیا لپاره داسې وسایل او شیان جوړ کړي چې د ژوند اوږد مزل یې ډېر را لنډ کړی او د څارویو پرځای یې له ټکنالوژۍ څخه کار اخلي. موټرسیکل، تراکتور، موټر، جیټ الوتکې او تېز رفتاره اورګاډي جوړشوي.

پخوا به مسافرو ته د حال او احوال لپاره لیکونه لېږل کېدل چې په رسېدو به یې میاشتې او کلونه تېرېدل. وروسته بیا لړ پرمختګ وشو چې د ټایپونو او کېسټو زمانه راغله. دا زمانه د هغه وخت یوه پرمختللې او خوندوره زمانه وه چې کورنۍ به خپلو مسافرو ته د کورنۍ د حال احوال پکې د کورنۍ د غړو له خولې بیاناوه. دواړو لورو به د کېسټې له ډکولو او اورېدلو څخه خوند اخیست. د کېسټې لېږل هم د لیکونو په څېر ډېر وروسته یو او بل لوري ته رسېدل. تاسو به لیدلي وي چې کېسټې به په کورونو کې ډېر وخت ساتل کېدې چې وخت په وخت به د کورنۍ د غړو له خوا اورېدل کېدې.

ټیپونه هم دومره اسان( عام) نه وو چې د هر چا او هر غریب په کور کې به پیدا شوي وای؛ یوازې به د کلي خان(ملک) او یا د کلي په شتمنه کورنۍ کې پیدا کېدل. که له دې هم راتېر شو، د ګرځنده موبایلونو(ټلیفونونو) وخت راغی. دغه موبایلونه هم بیا ډېر ژر تر هرې کورنۍ ورسېدل او ان په کورنۍ کې نږدې هر وګړي ورته لاسرسی درلود چې دا بیا د دغه عصر یو جالب او په زړه پورې د وګړو یو نښلوونکی سیستم و چې د هرې مور او پلار او کورنۍ د ټولو غړو تر غوږو یې د مسافرو تازه احوال را رساوه.

اوس څه کېږي، پوهېږئ چې د نړۍ له هرګوټ ګوټ څخه په ژوندۍ بڼه مخامخ یوله بل سره ګورو او د خپل ژوند ستونزې، مشکلات، پرمختګونه او ټول هغه څه ډېر په اسانۍ سره په ډېر جالب ډول یو له بل سره وایو. هر څه مو چې زړه غواړي وایو یې. موږ پوهېږو چې نړۍ ورځ تر بلې د پرمختګ او انکشاف پر لور روانه ده.

ټکنالوژۍ د انسانانو ژوند ډېر اسانه کړی او انسانان یې ډېر مخکې بېولي دي. که انسانانو د ژوند د پرمختګ او هوساینې لپاره کار نه وی کړی، غفلت یې کړی وای؛ نو نن به موږ له زیاتو ستونزو سره لاس او ګرېوان وو، ژوند او د ژوند چارې به مو په ډېرې ګرانۍ سره مخکې تللې.

په لنډ ډول، نن چې زموږ په کورنو کې کومه روښنایي تر سترګو کېږي، همدا د ټکنالوژۍ برکت دی .

ما هم په دې برخه کې تر خپلې وسې کار کړی، څو بشریت ته یو کوچنی خدمت وکړم. داسې یوه زانګو مې جوړه کړې چې د ماشوم په ژړا سره اتومات وزانګي، څو ماشوم ویده شي. کله چې ماشوم ویده شي، تر لسو دقیقو زانګو همداسې زانګي، وروسته تر لسو دقیقې زانګو خپله اتومات درېږي چې د مور او ماشوم په ژوند کې یو لوی سکون او راحت دی. د دې ترڅنګ داسې نور خدمات هم لري، څو د ماشوم ښه پالنه او روزنه وکړي. لکه د ماشوم د وزن اندازه کول او د ماشوم د قد اندازه کول. پر دې سربېره هره مور کولی شي چې ماشوم ته د خوب سندرې په خپل غږ کې ثبت کړي. کله چې ماشوم ژاړي، نو زانګو د مور ثبت شوی اواز ماشوم ته اوروي. د دې لپاره چې ماشوم د یوازېتوب احساس ونه کړي او په ارامۍ سره بېرته ویده شي؛ غواړم نور هم په دې کار وکړم. تر دې چې د ماشوم صحت معلوم کړي.

دا د ټکنالوژۍ برکت دی چې نن د نړۍ له ګوټ ګوټ سره یو ځای یو، یو د بل حال او احوال اخلو او د یو بل ستونزو او مشکلاتو ته په شریکه د حللارې چارې ګورو چې دا د بشریت لپاره یو لوی خدمت دی.

# تادین خان د جنرال رازق ځایناستی وټاکل شو

د کندهار د وژل شوي امنیه قوماندان جنرال رازق ورور تادین خان د کورنیو چارو وزارت د لومړي مرستیال پاسوال جانان بارکزي له خوا پرون د کندهار د امنیه قوماندان په توګه معرفي شو.

چارواکي وایي، تادین د کندهار د قومي مشرانو په غوښتنه د ولسمشر د حکم پر اساس د کندهار د امنیه قوماندان په توګه ټاکل شوی دی.

تادین خان که څه هم نظامي زده کړې نه لري، خو ځایي خلک وایي چې په تېرو څو کلونو کې یې له خپل وژل شوي ورور جنرال عبدالرازق سره نږدې همکاري درلوده او د سیمې له حالاتو خبر دی.



جنرال رازق د تېرې پنجشنبې په ورځ د کندهار د والي د یوه ساتونکي له لوري ووژل شو. د ملي امنیت رییس معصوم ستانکزی وایي، پر جنرال عبدالرازق برید کوونکي له جعلي نوم، جعلي تذکرې او شخصي تضمین سره د کندهار د والي د ساتونکي په توګه دنده پیل کړې وه.

د ملي امنیت رییس په کندهار کې ستانکزي پرون په کندهار کې وویل چې له برید څو دقیقې مخکې بریدګر له کرښې هاغاړه له کوم چا سره پنځه نیمې دقیقې خبرې کړې وې.

خبریالانو ته وویل، د دغه برید په تړاو ۱۵ کسان تر پوښتنو ګروېږنو لاندې دي.

په دوی کې تر ټولو مهم سړی د والي د ګارډ مشر مولاداد دی چې بریدګر ته یې د والي په ساتونکو کې ځای ورکړی و.

ویل کېږي هغه کس چې د دغه سړي تضمین یې کړی د برید په ورځ پاکستان ته تښتېدلی دی.

د کندهار امنیه قوماندان د ولایت په دفتر کې په داسې حال کې چې د ناټو د قاطع ملاتړ د قوماندان سکاټ مېلر او نورو چارواکو سره له یوې امنیتي غونډې څخه د وتلو په حال کې و، د یو ساتونکي له خوا په ډزو سره ووژل شو.

# سرچینې: ملا برادر په کراچۍ کې په نظامي مېلمستون کې دی

په پاکستان کې له زندان څخه د وسله والو طالبانو د لوړ پوړي چارواکي او پخواني مرستیال ملا عبدالغني برادر د خوشې کېدو په اړه ضد او نقیض راپورونه ورکړل شوي دي.

ځینې سرچینې وایي چې هغه خوشې شوی او له خپلې کورنۍ سره یو ځای شوی، خو طالبانو ته ځینې نورې نږدې سرچینې بیا په دې ګومان دي چې هغه د اسلام اباد له کوم زندانه خوشې شوی او د کراچۍ ښار نظامي مېلمستون ته لېږدول شوی دی.

ملاعبدالغني برادر چې د طالبانو له بنسټ اېښودونکو شمېرل کېږي، په ۲۰۱۰ زېږدیز کال کې هغه مهال د پاکستان له خوا په کراچۍ ښار کې ونیول شو چې د دې ډلې مرستیال و.

پاکستانیو رسنیو د تلې په ۳۰مه خبر ورکړی چې ملا برادر د قطر په هلو ځلو او غوښتنې خوشې شوی دی.

د (ډې نیوز) په نوم یوې پاکستانۍ ورځپاڼې ویلي چې د قطر مرستیال لومړي وزیر چې د بهرنیو چارو وزیر هم دی، څو ورځې مخکې اسلام اباد ته سفر کړی و او درې ورځې یې له ځایي مشرانو سره ولیدل.

سرچینې زیاته کړې، دا چې په قطر کې د طالبانو سیاسي دفتر فعال دی او له قطر سره نږدې اړیکې لري؛ نو ډېر امکان شته چې د دغه دفتر په غوښتنه قطر دا اقدام کړی وي. بلخوا په پاکستان کې طالبانو ته نږدې سرچینو پژواک ته ویلي چې ملا برادر له اسلام اباد څخه خوشې او په کراچۍ ښار کې د استخباراتو یو مېلمستون ته لېږدول شوی دی. سرچینې زیاته کړې چې اوس یې د کورنۍ غړي، خپلوان او دوستان په اسانه ورسره کتلی شي.

یوې بلې سرچینې بیا ویلي چې ملا برادر خوشې شوی، خو له کورنۍ سره یې استخباراتو پرېکړه کړې چې دا خبره به لس ورځې پټه ساتل کېږي.

د یادونې ده چې په ۱۳۹۲ لمریز کال کې هم د ملا برادر د خوشې کېدو راپورونه ورکړل شوي وو چې د افغان حکومت او سولې شورا له خوا هم تایید شوي وو، خو وروسته معلومه شوه چې خوشې شوی نه دی.

د افغانستان حکومت له تېرو څو کلونو راهیسې بار بار له پاکستانه د ملا برادر د خوشې کولو غوښتنې کړې، خو هغوی یې دا غوښتنې نه دي منلې.

ملا عبدالغني برادر د ارزګان ولایت د دهراوود ولسوالۍ اوسېدونکی دی او د پوپلزیو په قوم پورې تړاو لري.

# عبدالله عبدالله: جنرال رازق ناټو نه دی وژلی

د ملي یووالي حکومت اجرائیه رییس عبدالله عبدالله وایي، د کندهار د امنیه قوماندان جنرال عبدالرازق په وژنه کې ناټو لاس نه لري.

په سوېل کې دغه ځواکمن قوماندان او د کندهار د امنیت مشر جنرال مومن حسین خېل تېره پنجشنبه د کندهار د والي په دفتر کې د ناټو له لوی قوماندان سره تر غونډې وروسته ووژل شول.

ویل کېږي چې د والي یوه ساتونکي جنرال رازق هغه مهال وواژه چې تر غونډې وروسته سکاټ مېلر الوتکې ته پورته کېده.

د نوموړي تر وژل کېدو وروسته وسله والو طالبانو د یوې خبرپاڼې په خپرولو سره وویل چې د برید موخه یې جنرال رازق و.

وروسته یې بیا خپله خبرپاڼه بدله کړه او ویې ویل چې موخه یې د رازق او سکاټ مېلر وژل وو.

له هغه راهیسې په خواله رسنیو کې پوښتل کېږي چې د جنرال رازق پر ځای ولې د ناټو لوی قوماندان سکاټ مېلر نه وژل کېده.

اجرائیه رییس وایي چې ناټو د جنرال رازق په وژلو کې لاس نه لري. هغه زیاتوي: «دا ګنګوسه چې پرېکنده ملاتړ دا کار کړی زما په اند د دښمن ژرندې ته اوبه ورکول دي.»

اجرائیه رییس د کوم چا د نوم له اخیستو پرته وویل: «هغوی چې د طالب ملاتړ کوي، هغه که په هر هېواد کې وي چې طالب ته پنا ورکوي یا طالب توجیه کوي او هغوی چې د افغانستان په خاوره کې د طالب جنایت توجیه کوي، هغه د افغانانو دښمنان دي، د جنرال رازق دښمنان دي، د هغه د کورنۍ دښمنان او د ټول افغانستان دښمنان هم دي.»

عبدالله د وزیرانو شورا په ناسته کې جنرال رازق پیاوړی قوماندان وباله او ویې ویل چې له رازق سره هر افغان توکم خواخوږي ښودلې ده.

په خواله رسنیو کې له جنرال رازق سره پراخه خواخوږي ښودل شوې او هغه یې د افغانستان اتل بللی دی.

د یکشنبې په ورځ په کندهار کې ځینې ښځې هم واټونو ته را وتلې وې او له افغان حکومته یې غوښتل چې د جنرال رازق وژونکي په سزا ورسوي.

## اقتصاد

### د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | ۷۵,۹۰ |
| € | ۸۷,۳۰ |
| Rp. | ۵۷٤ |
| ₹ | ۱۰۳۰ |
| ¥ | ۱۰,۸۰ |
| £ | ۹۸,۲۰ |

### پروازونه

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 10:30 |
| کابل - دوبۍ | 15:30 |
| کابل - ډهلي | 10:05 |

Kam Air

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 09:00 |
| کابل - کندهار | 09:00 |
| کابل - ډهلي | 10:00 |

flydubai

| | |
|---|---|
| کابل - دوبۍ | 08:50 |
| کابل - دوبۍ | 14:40 |
| کابل - دوبۍ | 18:15 |

### بېړنۍ شمېرې

پولیس
119 - 100
امبولانس
112
اتاترک روغتون
0202500312
ملالی زېږنتون
0202201377
وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360
رابعه بلخي روغتون
0202100439

مسیر ورځپاڼه

**مسوول مدیر:** اسدالله وحیدي
**مرستیال:** عبدالرقیب نوري
**لیکوالان:** محمد نظیم سمون، شفیق امیرزی، جاوید کوټوال او شفیق همدرد
**خبریالان:** حمیدالله حمیدي، حکمت آرین، حشمت نوري او جواد تیموري
**ګرافیک او ډیزاین:** ارمان
**چاپخونه:** وایګل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲۶۲۶ ۰۷۸۲۹۸۹۶۹۶

maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

Maseer Daily
New Vision, New Journey

المبارک
توریستي شرکت
المبارک د ښه سفر لپاره غوره انتخاب دی

0786 55 55 91
0786 55 55 92
0786 55 55 93
0777 77 78 55
کابل د میوند جادې وروستی برخه، خوست ټاور، لومړی پوړ.
flydubai · ARIANA · TURKISH AIRLINES · Emirates

سه شنبه د ۱۳۹۷ د لړم لومړی | د ۲۰۱۸ د اکتوبر ۲۳مه | دویم کال | ۲۷۲مه گڼه

www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily

| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننګرهار | خوست |
| --- | --- | --- | --- | --- | --- |
| ۲۰ | ۲۷ | ۲۸ | ۲۵ | ۲۸ | ۲۵ |
| ۵ | ۱۲ | ۱۱ | ۱۰ | ۱۲ | ۱۱ |

شرعي وختونه: سهار ۰٤:٤۲ | لمر ختل ۰٦:۰٥ | ماسپښين ۱۱:۳۸ | مازیګر ۰۳:۳۱ | ماښام ۰٥:۱۰ | ماخوستن ۰٦:۳٤

## نړۍ




## اردوغان: نن به د خاشقجي د وژل کېدو په تړاو ټول حقایق په ډاګه شي



د امریکا او ترکیې ولسمشرانو په ټلیفوني خبرو کې هوکړه کړې چې په استانبول ښار کې د سعودي عربستان په کونسلګرۍ کې د سعودي خبریال جمال خاشقجي د وژل کېدو په اړه باید پوره سپیناوی ورکړل شي.

د ترکیې انادولو خبري اژانس ویلي، ډونالډټرمپ او رجب طیب اردوغان هوکړې ته رسېدلي چې د خاشقجي د وژل کېدو د قضیې ټول اړخونه باید روښانه شي.

اردوغان دغه راز ویلي، نن به د جمال خاشقجي د وژل کېدو په تړاو ټول حقایق په ډاګه کړي.

سعودي د شنبې په ورځ د لومړي ځل لپاره ومنله چې خاشقجي په استانبول کې د دغه هېواد په کونسلګرۍ کې وژل شوی دی.

د سعودي حکومت ویلي، ٦۰ کلن خاشقجي په کونسلګرۍ کې د یوې فزیکي شخړې په نتیجه کې وژل شوی، دا هغه څه دي چې نړیوالې ټولنې یې په اړه شک او تردید ښکاره کړی دی.

ترکي او امریکایي چارواکو ویلي، خاشقجي کونسلګرۍ ته تر داخلېدو وروسته د سعودي چارواکو د یوې ډلې لخوا شکنجه او وژل شوی دی.

په همدې حال کې جرمني، فرانسې او بریتانیا وروسته ورځ په یوه ګډه اعلامیه کې د سعودي په کونسلګرۍ کې د خبریال خاشقجي وژنه غندلې او ویلي دي چې د دې قضیې په اړه باید هغه څه چې دقیق دي، ښکاره شي.

## تایوان کې د اورګاډي د اوښتو له امله ۱۸ کسان وژل شوي



تایواني چارواکي وايي، د یوه اورګاډي د بې پټلۍ کېدو په پېښه کې لږ تر لږه ۱۸ کسان وژل شوي او تر ۱٦۰ زیات ټپیان شوي دي.

د تایوان د اور وژنې ملي اداري ویلي، پېښه هغه مهال رامنځته شوه چې دغه اورګاډی له خپلې پټلۍ بې ځایه شو او نږدې ۲۰۰ کسانو ته یکې مرګ ژوبله واوښته.

د تایوان د اورګاډو او رېل پټلیو اداري ویلي چې په دغه اورګاډي کې ۳٦٦ کسان ناست وو چې ډېری یې ژغورل شوي هم دي.

دې اداري ویلي، د اورګاډي اته واړه برخې له پټلۍ وتلي وې چې له دې ډلې پنځه یې چپه شوې دي.

د تایوان د مرکزي اژانس په حواله، شاوخوا ۳۰ کسان لا هم په واګونونو کې ایسار پاتې دي.

تر دې وړاندې هم د تایوان په بېلابېلو ښارونو کې اورګاډي له پټلۍ وتلي چې ګڼو کسانو ته یکې مرګ ژوبله اوښتې ده.

## وزارت معارف: معلمان در روند انتخابات هیچ مداخله نکرده است



وزارت معارف افغانستان گفته است، معلمانیکه به عنوان کارمندان موقت کمیسیون مستقل انتخابات گماشته شده بودند، هیچ نوع دخالتی در روند انتخابات نکرده‌اند.

وزارت معارف افغانستان دیروز با نشر اعلامیه‌ای گفته است که بر اساس قانون و تعهدنامه‌ای که میان این وزارت و کمیسیون انتخابات به امضا رسیده بود، آموزگاران هیچ نوع مداخله‌ای در امور انتخابات نداشته‌اند.

در اعلامیه این وزارت آمده است: «در جریان انتخابات شماری از معلمان در نتیجه حملات شورشیان بر مراکز رأی‌دهی که در مکاتب بودند، کشته و زخمی شده‌اند».

این در حالیست که کمیسیون مستقل انتخابات گفته است، در روز اول انتخابات شماری از کارمندان مؤقت کمیسیون که از میان معلمان مکاتب استخدام شده بودند، در مراکز رأی‌دهی حاضر نشدند.


رئیس کمیسیون مستقل انتخابات گفته است: «وزارت معارف به معلمان برای آموزش سیستم انگشت نگاری فقط یک روز وقت داده بود و همچنین این سیستم در وقت کم بر ما تحمیل شد، اما با آن‌هم در اکثر مراکز از آن استفاده شد. مسدود بودن مراکز رأی‌دهی مشکل کمیسیون نبود به معلمان بر می‌گردد که چرا به وظایف‌شان مطابق تعهدات قبلی حاضر نشده بودند».

انتخابات پارلمانی افغانستان، روز شنبه (۲۸ میزان) در ۳۲ ولایت این کشور برگزار شد. این انتخابات با مشکلات فراوانی همراه بود و به همین دلیل، در خیلی از موارد ساعت رای‌دهی تمدید شد و در برخی از مراکز رای‌دهی به دلیل برگزار نشدن انتخابات در روز اول، روز گذشته (یک‌شنبه ۲۹ میزان) رای دهی صورت گرفت.

کمیسیون مستقل انتخابات گفته است که حدود چهار میلیون نفر در انتخابات پارلمانی شرکت کرده اند.

## ژوند

## د ډېرې مالګې خوړل، ډېر زیانونه لري





په عام ډول مالګه د وینې فشار د لوړېدو لامل ګڼل کېږي، خو اوس روغتیا پالانو د مالګې د ډېر استعمال یو بل تاوان هم څرګند کړی دی. د چین جنان پوهنتون یوې څېړنې ښودلې چې د مالګې ډېر استعمال د فشار پر لوړولو سربېره د ډېر عمر لرونکو کسانو ینې ته هم ډېر تاوان رسوي. څېړونکي وايي چې د انسان بدن لږې مالګې ته اړتیا لري او د امریکا حکومت له همدې کبله روغو کسانو ته په ورځ کې د چای د یوې کاشوغې په اندازه د مالګې خوړلو وړاندیز کوي.

په مالګه کې موجود «سوډیم» پر نورو چارو سربېره په بدن کې د شته اوبو جریان په برابرولو او عصبي نظام منظمولو کې مرسته کوي، خو د مالګې ډېر استعمال بیا جانبي عوارض هم لري. د روغتیا نړیوالې ادارې په یوه ورځ کې د شپږو ګرامو په اندازه د مالګې خوړلو توصیه کړې ده چې له دې څخه په زیاته پیمانه خوړل یې روغتیا ته زیان رسوي او بېلابېلې ناروغۍ رامنځته کولای شي. امریکا کې د وائیل کارنېل په نوم په یوه طبي انستیټیوټ کې ترسره شوې څېړنه کې هم مالومه شوې چې د مالګې ډېر استعمال د مغز لپاره خورا خطرناک دی.

## ماشوم ته څه ډول خبرې ور زده کړو؟

د کیسو ویلو پر ځای له ماشومانو سره خبرې وکړئ، څو مو هغوی ته هم د خبرو کولو حق ورکړی وي. ماشومانو ته مو اجازه ورکړئ چې خپل احساسات په خبرو کې بیان کړي، ان که هغه دوې بې معنا کلمې هم وي. د ویده کېدو پر وخت له ماشومانو سره د کیسو ویلو پر ځای خبرې کول، څو ځلې د هغوی د خبرو کولو قدرت پیاوړی کوي.



ارواپوهان وايي، که غواړئ چې د ماشومانو د خبرو کولو قدرت مو پیاوړی شي، نو ماشوم ته مو د خوب پر وخت د کیسو ویلو پر ځای له هغوی سره خبرو کولو ته وخت ورکړئ. دوی وايي، کله چې تاسو د شپې له خوا له ماشومانو سره خبرې کوئ، شپږ ځلې یې د خبرو قدرت د هغه په پرتله لوړېږي چې تاسو ورته کیسې وواياست. که څه هم ډېری اروپوهان د خوب پر وخت ماشومانو ته د کیسو ویل ګټور بولي، خو له هغوی سره خبرې کول بیا تر دې هم ګټورې دي.

امریکایي څېړونکو په خپلو څېړنو کې ویلي چې ډېرې میندې او پلرونه د دې لپاره چې د ماشومانو د تکلم قدرت یې پیاوړی شي، بېلابېل کتابونه مطالعه کوي او له ډول ډول لارو چارو څخه کار اخلي، خو څومره چې له ماشوم سره خبرې کوئ، دا هغومره د هغوی د تکلم قدرت پیاوړی کوي چې دا کار بیا د کتابونو مطالعه نه شي کولای.